ی. و. ستالين
ژباړه: فرهاد وياړ


## د ديالکتيک ماترياليزم او تاريخي ماترياليزم په اړه

(لومړی برخه)

ديالکتيک ماترياليزم د مارکسيستي ـ لنينيستي گوند نړی ليد (جهان بيني) ده. دا نړی ليد د دې لپاره ديالکتيک ماترياليزم نومول کيږي چې د طبعيت پديدو ته يې د پاملرني ډول او د دې پديدو د څيړني او د پوهيدني ډول يې **ديالکتيکي** دی، خو د طبيعت د پديدو په هکله يې تفسير او له دې پديدو څخه استنباط او تيوري يې **ماترياليستي** ده.
تاريخي ماترياليزم، د ټولنيز ژوندانه د ارزوني ډگر ته د ديالکتيک ماترياليزم د اصولو پراخوالی، پر ټولنيز ژوندانه د ديالکتيک ماترياليزم د اصولو تطبيقول او د ټولني او د هغه د تاريخ ارزونه ده.

مارکس او انگلس د خپل ديالکتيک د ډول د توصيفولو لپاره معمولاً هگل ته، د هغه فيلسوف په توگه چې د ديالکتيک بنسټيزه ځانگړني يې فرموله کړی، استناد کاوه، خو نبايد داسې وانگيرل شي چې د مارکس او انگلس ديالکتيک کټ مټ همااغه د هگل ديالکتيک دی. حقيقت دا دی چې مارکس او انگلس د هگل ديالکتيک «معقوله هسته» اخيستی، ايده اليستي پوستکی ورته ليرې اچولی او بيا يې ديالکتيک ته لا زيات پراخوالی او پراختيا ورکړی او هغه يې پر ننني علمي بنه بدل کړی دی.

مارکس وايي:

«زما ديالکتيکي متد نه يوازې په خپل بنسټ کې د هگل له متد سره فرق لري، بلکې مستقيماً د هغې د ديالکتيک متضاد دی. د هگل په باور؛ فکر، چې هغه يې د اند تر نوم لاندې آن يو خپلواکه ذات گڼي، د واقعي نړی زيږونکی دی، او د هغې په باور واقعي نړی د اند او فکر يو انعکاس دی، په داسې حال کې چې زما په فکر؛ اند له هغې مادي پرته چې د انسان ماغزو ته انتقال شوی ده او په هغه کې يې بنه بدله شوی ده، کوم بل شئ نه دی.» (کارل مارکس، کپيټال، پاييزه، لومړی توک دويم آلماني چاپ).

مارکس او انگلس د خپل ماترياليزم د توصيفولو لپاره معمولاً فويرباخ ته هم د هغه فيلسوف په توگه چې د ماترياليزم حقه حقوق يې په ځای کړي دي، استناد کوي. خو نبايد داسې وانگيرل شي چې د مارکس او انگلس ماترياليزم کټ مټ د فويرباخ ماترياليزم دی. مارکس او انگلس په حقيقت کې د فويرباخ د ماترياليزم «اصلي هسته» اخيستی، د هغې ايده اليستي او مذهبي او اخلاقي اضافي شيان يې ليرې اچولي او د هغې ماترياليزم ته يې بيا هم پراختيا ورکړې او د فلسفي ماترياليزم او علمي تيوري تر کچې يې رسولی دی. څرنگه چې پوهيږو، فويرباخ چې په خپله

اساساً يو ماترياليست و خو بيا هم د ماترياليست له نومولو سره مخالف و. انګلس په کراتو ويلي دي چې فويرباخ «سره د دې چې اصولاً ماترياليست دی خو لا د ايده اليستي زړو لومو څخه خلاص شوی نه دی او همدا چې د هغه ديني فلسفي او اخلاقي تيوري ګاني مطالعه کړو، د هغه حقيقي ايده اليزم موږ ته په ډاګه کيږي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۶۵۲ ـ ۶۵۴ مخ، روسي چاپ)

د ديالکتيک کلمه د يوناني «ډيالګو» له کلمې ريښه اخيستې چې مانا يې مرکه او مباحثه ده. په تيرو وختونو کې ديالکتيک د هغه علم نوم و چې په پوهيدلو سره به يې د سيال د دلايلو تناقضات ښکاره کول، حقايق به يې موندل او پر هغې به برلاسي کيدل. ځيني لرغوني فيلسوفان باورمن وو چې په فکرونو کې د تناقضاتو موندنه او د متضادو اندونو مخامخ کيدنه، د حقيقت د کشفولو تر ټولو غوره وسيله ده. د ديالکتيکي اصولو پر بنسټ د تفکر لړۍ، وروسته په طبيعي پديدو کې هم ورګډه او د طبيعت د پيژندني په ديالکتيکي متد بدله شوه چې له مخې يې، د طبيعت ټولې پديدې په دايمي ډول متحرکې او متغييرې دي او طبيعي بدلونونه په طبيعت کې د متضادو ځواکونو د متقابل عمل پايله ګڼل کيږي.

د ديالکتيک اساس په مستقيم ډول د متافيزيک په مخالفې خوا کې ځای لري.

**۱ـ مارکسيستي ديالکتيکي متد لاندنې بنسټيزه ځانګړنې لري:**

الف.) ديالکتيک، د متافيزيک په خلاف؛ طبيعت د شيانو او پديدو هغه ناځاپي ټولګه نه ګڼي چې له يو بل نه جلا او منفرد او له يو بل سره کوم تړاو ونلري؛ بلکې، طبيعت د شيانو او پديدو هغه ټولګه او واحد ګڼي چې له يو بل سره ارګانيکي اړيکي لري، يو له بل سره تړاو لري او يو د بل مشروط ګڼل کيږي.

نو د ديالکتيک متد باورمن دی چې په طبيعت کې هيڅ ډول پديده په منفرده او د هغه د چاپيريال د نورو پديدو سره د اړيکو له پام نيونې پرته، کوم مفهوم نشي درلودی. ځکه، پديدې که د طبيعت په هره برخه کې د چاپيريال له شرايطو پرته په پام کې ونيول شي په يوې خوشي شئ به بدلې شي او برعکس هر کله که يوه پديده د خپل چاپيريال په شرايطو کې د محدوديدو تر څنګ او د نورو ګاونډو پديدو سره د هغې ناجلاکيدونکي اړيکې هم په پام کې ونيسو، ګورو چې پديده مفهوم پيدا کوي او کولای شوو دا پديده توضيح کړو.

ب.) ديالکتيک، د متافيزيک په خلاف چې طبيعت د آرامتيا، رکود او په نه بدليدونکي سکون کې ګوري، طبيعت د حرکت او د دوامداره بدلون او پرمختګ او د دايمي نوی کيدنې په حالت کېويني چې په کې تل يو شئ رامنځته کيږي، پرمختګ کوي او يو څه وروست او له منځه ځي.

نو د ديالکتيک متد ايجابوي چې پديدې نه يوازې د متقابله اړيکو او پر يو بل د مشروطيدنې له اړخه، بلکې بايد د حرکت، بدلون، پرمختګ، پيدايښت او زوال له اړخه هم په پام کې ونيول شي.

د ديالکتيک متد لپاره هغه شيان چې دا وخت ټينګ ښکاري خو د زوال او نابودی بهير وهي لومړيتوب نلري، بلکې هغه شيان اهميت لري چې رامنځته کيږي او پرمختګ کوي؛ که څه هم دا وخت کمزوره ښکاره شي؛ ځکه ديالکتيکي متد هغه شيان نه ماتيدونکي ګڼي چې رامنځته کيږي او پرمختګ کوي.

انګلس وايي:

«د طبيعت ټول شيان؛ د کوچنې شئ څخه تر لوی پورې، د شګې له دانې څخه تر لمر پورې، له پروتيست (لومړنی ژوندی سلول ـ ی. ستالين) څخه تر انسان پورې، په دايمي پيدايښت او زوال، نه غوځيدونکي بهير او دوامداره خوځښت او بدلون کې دي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۴۸۴ مخ).